پوهندوی آصف بهاند ۲۰۱۴،۰۷،۰۷

# د «خاموش فیلسوف»ویر پنځه کلن شو

## (د استاد اسد آسمايي یاد)

او دا دی د تګ وخت دی
موږ هر یو په خپله مخه ځو
زه دمرګ په لوري،
تاسو د ژوند پر خوا !
کومه لار ښه ده؟
یوازې خدای پوهیږي …
(سقراط)



د ۲۰۰۵ کال اوړی، هیدرسلیف، ډنمارک

د۲۰۱۴ کال د جولای په اتمه(۸) نېټه د «خاموش فیلسوف» پنځم تلین دی.له هغي ورځي چي استاد اسد آسمايي خپله وړه کورنی او د فرهنګیانولویه کورنی یوازې پرېښوده پنځه کاله واوښتل، خو د ده یاد له ما سره داسي تازه دی لکه دا پرون، د اسد په نشت کي يي یادونه او مرګ زما زړه بیا بیا د ویر منګولو ته سپاري اوسترګی نمجني کوي.

زما هیر نه دی، مرګ ته مي په ورتې ورتې وژل داسي لکه ماشوم، دجنازې د بازو نیول يي خدای راپه برخه نه کړل، په هغه وخت کي مي یوازې په یوې لیکني (بواسد، یولیونی یو فلسفي، یو آسمايي) بسنه وکړه.د همدې مقالي په پیل کي ما داسي لیکلي وو:

د ۲۰۰۹ م کال د جولای پر اوومه نیټه د پاریس په وخت د ورځي دولس بجي اوپنځه پنځوس دقیقي استاد اسد آسمايي په خپل استوګنځي(پاریس) کي په داسي حال کي بې هوشه پیدا شوی چي لاسونه اومخ يي شنه شوي وو او سا يي نه شوه ایستلای. روغتون ته له لیږدولو وروسته، د آکسیجن دستګاه په مرسته يي یو څه تنفس کړی، د لاسونو او مخ شین واله يي ورک شوي او وجود يي بیرته تودوخه پیدا کړې ده؛ خو په خواشینی سره چي د۲۰۰۹ م کال د جولای پر اتمه، د سهار په څلور بجو او شپږ دقیقو ومړ او ډیرعلمي فرهنګي دوستان يي د ویر پر تغر کینول.

لومړي تلین ته مي بیا بله مقله ولیکله(یاد به دې کومه په لمدو سترګو).
ده به په کابل کي زموږ د حلقي یارانو له خوا د غیر معمول او جالبوخبرو،
فلسفي خبرو،
له عادي ژوند او رواجونولري خبرو،
نه منلو،خو د ترخه واقعیت په زهرو لړو خبرو د بیا بیا تکرار په وجه «لیونی اسد» ویل کیدل. په یوې مقالي کي ما د ده لیونتوب داسي یاد کړی و:
خو… زموږ لیونی فلسفي يي داسي واخیست چي لکه د چا خبره وینه يي هم تویې نه شوه، ریښتیا د ده په وجود کي وینه چیرته وه چي تویې شوې وای، او داسي يي رانه واخست چي په زرګونو زړونه يي په وینو او اوښکو کي ولمبول.
هوکي! اسد یادوم، آسمايي اسد، فلسفي اسد، لیونی اسد «که لیونی يي زما یار يي» هر څوک چي هر څه وايي، ودي وايي، زه په زغرده وایم هرڅه چي و، زما یارو:
زما د مرکزي لیلي د کوټي یار،
زما د تورو شپو د مرکو یار،
زما د توکو ټکالو یار،



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

زما د استادۍ د دورې د همکارۍ یار،
زما د ماسترۍ د دورې د زدکړو استاد اویار،
زما د مهاجرت د ترخو ورځو، ترخو ساعتونو او ترخو شپیو یار او زما...
ډېرې اوږدې لارې به یې ماته د راتګ په هیله شاته پرېښودې او په ستړو قدمونو به له فرانسې نه، له پاریس نه تر ډنمارکه پورې ځان راورساوه او راته وبه یې ویل:
«دا دی راغلم، اوس به مې دمه جوړه شي.»



د ۱۳۶۸ کال ژمی، کابل دهبوري

ډېر خلک د ده د ټوکو او خندا ګانو یادونې کوي، خو زما د ذهن په آرشیف کې یې د ژوندۍ ټوکو لویه ذخیره پرته ده. دی په ټوکو کې په هیڅ چا بند نه و، حتی په خپل پلار. یوه ټوکه یې چې زما په مخ کې له خپل پلار سره کړې وه،اوما پخوا د ده د مرګ له پاره چې کومه مقاله لیکلې وه یادونه مې یې کړې وه،دلته یې هم را اخلم:

یوه ورځ زه او استاد اسد له کابل ښار نه د پلچرخي د «ګلباز کلي» ته د ده د پلار د کور خوا ته وخوځېدو. له رسیدو سره سم که ګورو چې کوټه له میلمنو ډکه ده. څه وطني غونډې خلک وو. زه خو د هغو له پاره پردی او نا پېژندلی وم، خو د استاد اسد له خبرو او حرکاتو میلمانه پوه شول چې دی د کور غړی دی؛ خو نه یې پېژانده چې د غلام دستګیر خان زوی دی. له ستړي مه شي وروسته کیناستو. د پاخه عمر یو تن چې ږیره یې په نکریزو سره کړې وه، اسد ته مخ ور واړاوه، ورته وې ویل:
ـ ومې نه پېژاندې؟
ـ زما نوم اسد دی.
د زیړ ږیرې تنده ماته نه شوه. د خپلو پوښتنو لړۍ یې اوږده کړه، وې پوښتل:
ـ پلار دې؟
ـ هغه مړ شوی دی.
سمدلاسه زیړ ږیرې نورو ته مخ ور واړاوه، وې ویل: یو لاس به پورته کړو.
لالا جان(د استاد اسد پلار) چې په باغچه کې اوبه لګولې، د دعا په پای کې راورسید او د خلاصې کړکۍ له خولې نه یې پوښتنه وکړه:
بیا د چا دوا ده؟
لیونی اسد پلار ته مخ ور واړاوه ورته وې ویل:
دا دی چې بیا ګیله ونه کړې، په خپلو سترګو دې ولیدل چې دوا مې دې واخسته. حاضرینو یو بل ته په تعجب وکتل او په سترګو کې یې لالاجان ته څه وویل.
ما په لومړۍ مقاله کې لیکلي وو چې د استاد اسد آسمایي شخصیت نه قانع کیدونکی، سرکشه، پلټونکی او یاغي شخصیت و.هغه بغاوت چې مجروح په «ځانځاني ښامار» کې پیل کړی و، اسد ګام په ګام تعقیباوه او پر هماغه پله روان و، او دغه بغاوت ته یې عملي جامه ور اغوسته. دکورنۍ کلي کورپه مقابل کې بغاوت،
د درسي چاپیریال او پوهنتونیانو په مقابل کې بغاوت،
د ټولنې او د ټولنې د ناروا وو په مقابل کې بغاوت،
او ... په مقابل کې بغاوت،
د همدې اصولو پر بنا ده د هیڅ چا پروا نه ساتله او په هیڅ اړ نه و.
دا خبره یې د مرګ تر ورځې یو وار نه په څو ځلې ما ته کړې وه چې:
کوربانه! زما په خبر څوک نه پوهیږي، ما څوک نه شي درکولای ... استاد مجروح او استاد شجاعي زما په خبرو او مقصد پوهیدل، دوی ټول غوړ،غوړ وو. او بیا به یې له یو ساړه اوسیلي سره د خوشال بابا دا بیت پر ژبه راغی:

چیرته پسې درومم، په کوم لوري به یې مومم
ورکه مونده نه شي، بې رهبره بې سرا غه

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ



له ډيري مودي وروسته د۲۰۱۳ کال په اوړي کي وتوانيدم چي پاريس ته سفر وکړم. زما د سفر په پلان کي د نړی له اوو عجوبونه دويِ(د ژوکون موسکا او د ايفل برج)، موزيمونو، پوهنتونونو، د شېاړسم لويي مانی او بڼ، د لورو موزيم او ... دليدلو شامل وو، خو تر ټولو لومړی د «فلسفي يار» مړستون ته تګ مي خپل لومړيتوب ګاڼه. ورغلم د سرِي بي حرکته بستري په څنګ کي يي کيناسم،
بيا مي لکه ماشوم ورته وژړل او د ده د مرګ په خاطر مي چي کومي جملي د مرګ د شيبي له پاره ليکلي وې، بيا د ده د مړستون په څنګ کي زما د ککرۍ په ګومبزه کي انګازې وکړې او داسي يي وژړولم لکه مړي ته يي چي ناست يم .هغه څو جملي دا دي:
او بيا آسمان وريځ شو، وغړمبيد، داسي وغړمبيد چي غرونه او رغونه يي ښورول. نه يي واوره و وروله، نه ږلۍ،نه کوم تند باران وورېد او نه نرم باران. دا وار ته د تالندۍ او بريښنا په لړ کي د وريځو له منځ نه سپين اوښ راښکاره شو،
خلکو ويل خدايه خير کړې،
«بيا به وارکا په کوم غولي وارد چا دی»،
اسد غږ وکړ : دا زما دی، د ازما وار دی.
او په پای کي دا وار پر ده راغی، پر آسمايي راغی، پر ليوني راغی.
سپين اوښ راغی، د ده د استوګنځي مخي ته ودريد، په ګونډو شو. اسد په آسانی، په نرمی، په خوشالئ، په خپله خوښه ورباندې سپور شو. اوښ بيرته ودريد، په سوچ کي شو، څه يي ونه ويل، سر يي وښوراوه، وخوځيد او د تورو، سپينو وريځو په منځ کي زموږ له سترګو نهام شو...
او زموږ د مرکو ليونی،
زموږ د فلسفو ليونی،
زموږ دغرونوآسمايي ليونی،
زموږ د ياراني ليونی
او زموږ اسد يي دتل له پاره له موږ څخه جلا کړ،
اوپه دې ډول يو ستر انسان د مځکي له مخ نه کم شو.
د استاد اسد آسمايي په باب زما خاطرې ډيرې دي، را يادول او ليکل يي په رښتيا ما زوروي او روح مي داسي په عذاب کيږي لکه همدا اوس چي د اسد مړی راته اينبی وي.
دلته د اسد آسمايي د فکر او قلم د يادوني په خاطر، د ده هغه مقاله تاسو سره شريکوم چي ده په خپل قلم په (۱۳۷۸/۱/۲۲) کي د «هوسی» د هنرمند هستونکي، د «لام او ايلينو» د انځورګر، هستونکي شاعر، ګران غفور ليوال د «هوسی» د مقدمي په ډول ليکلي وه:

( يو لنډ يادښت)
زه به تن غرض وګانده ته پرې نه ږدم
که د ګانده د ژوندون سرۍ ضمان شي
آزادي تر با د شا هيه لا تيرى کـــــا
چي د بل تر حکم لاندې شي زندان شي
(خوشحال خان ختک)

دهوسی تراژيدي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولئ

انسان یوازې د ژوند له پاره هڅه نه کوي، بلکې غواړي د آزادۍ په مرسته«ځان» زبات کړي، ځان قربانوي چې آزادۍ ته ورسیږي. د قربانۍ په مرسته آزادۍ ته رسیدل په خپله وګړی(فرد) له منځه وړي او د دغه نه حل کیدونکې پرادکس(paradox) استمرار تراژیدي ده.
د شلمې پیړۍ«وجودي» فلسفه، آزادي د انسان طرحه، پیژندنه او ماهیت ګڼي. دا په آزادۍ محکوم انسان د ټاکنې په لایتناهي ډګر کې د خپلو کړنو مسؤول دی او له مسؤولیت څخه تیښته له آزادۍ څخه سترګې پټول دي.



د ۲۰۰۵ کال اوړی، هیدرسلیف، ډنمارک

II

له بلې خوا په شلمې پیړۍ کې اروا پوهنه رامنځ ته شوه چې د «خودي» او «نا وېښتیا» د «یونګ» په ژبه جمعي یا قومي نا خود آګاه د سمبولونو او تصویرونو آره زیرمه په افسانو، فولکلور او لرغوني هنر کې ریښې لري. سمبول او تمثیل په اروپایي شعر کې د عاطفي هیجان په بڼه د «رمبو»، «ولرن» او «بودلر» په اشعارو کې ځان څرګند کړ او دلته شعر د افسانې سمبولیکه ژبه ده او ښایي وواېو چې دغه سمبولیزم به له ختیځو(شرقي) سمبولونو څخه اغیزمن وي.
که دلته سنایي د نوراني پیر په مرسته په روحاني سفر پیل وکړ، نو ډېره موده وروسته «دانته» هلته لومړی د «ویرژل» چې دعقل سمبول دی او بیا د «بیناتریسه» چې د مینې سمبول دی، په مرسته خپل مانیز سفر پر مخ بوته. په یوه اټکل دا شرقي افسانې دي چې لومړی د مصر او بین النهرین له لارې لرغوني یونان او بیا ټول لویدیځ ته ورسیدې.

III

د «یونګ» دزړې نښې(کهن الګو) له مخې مولانا په مثنوي کې د وېښتیا(خود آګاه) او نیمه وېښتیا(نیمه آګاه) په منځ کې شعر وایي، خو د شمس په دیوان کې ته به وایي د ناوېښتیا(ناخود آګاه) له پوړ څخه تیریږي او ټولیزه(جمعي) نا وېښتیا(ناخود آګاه) له ژورو څخه یې شعري سمبولونه په ژبه جاري کیږي. همدا رنګه د ګویته د «فاوست» په لومړۍ برخه کې موږ پوهیږو چې ولې دمارګریت مینه په ناورین بدلیږي، خو د دویمې برخې د شننې له پاره موږ اړ یو چې یوه شوچې لرغوني سمبولونه څه ډول د «هلن» په وجود کې بیا دهنر او شعر ډګر ته راوزي. د دې سمبولونو ریښه ښایي د بشري تاریخ څخه ورهاخوا غځیدلې وي.

IV

د لیوال د ((هوسۍ)) منظومه یوه داسې نوې هڅه ده چې د خپل زړه خبرې د افسانوي سمبولونو په مرسته وکړي. د ښکلا سمبول (دتورو سترګومیرمن) د ښپیلۍ په اسرار آمیزه غږ زړه بایلې(مغروره پیغله) چې د تورو سترګو له میرمنې سره ورته والی لري، د شاعرانه تخیل په ځواک او د ښپیلۍ په کوډو درې ځلې بیا بیا ځان را څرګندوي، لکه ((هلن)) چې څو پیړۍ وروسته د ګویته د شاعرانه تخیل په ځواک بیا څرګندیږي.
((هوسۍ)) د خپلواکۍ نښه، د قربانۍ په مرسته د ژوند امکان مومي، هغه زخمي کیږي او پر هغې مین کلیوال خپلې سترګې، وینې او هیلې هغې ته وربښي او بیا دا پوښتنه رامنځ ته کیږي چې د «آزادۍ» مظهر(هوسۍ) په دومره قربانیو ارزي؟ زخمي هوسۍ غواړي چې دشپونکي او د هغه د لیونۍ مینې په مرسته غنم وکړي، خو د دغې منظومې زړه بوږنونکي غمیزه (تراژیدي) په دې کې ده چې «هوسۍ» د مینې، سپیڅلتیا او حقیقت په لرلو سره سره له ماتې او شکست سره مخامخ کیږي، چې د هوسۍ دغه د «نا ممکن» په لوري هڅه، د یوې شاعرانه سمبولیکې تراژیدي استمرار ده.

V

د هرمان هسه «د بیدیا لیوه» داسې سمبولیکه افسانوي بیلګه ده چې لیکوال یې د «عقل» او «هنر» پلویانو ته وایي چې له انتزاعي منطق څخه ځان وژغوري، خندا او ژوند زده کړي. «هرمینه» د ناخود آګاه هغه ځیره ده چې غواړي د «هالر» له دروغجن شخصیت څخه دې طبیعي پیر(حالت) ته راوګرځوي، هرمینه د افسانې او ناخود آګاه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

نښه ده چې د «پابلو» په خوله خبرې کوي او «ماريا» د دوی تر منځ نيمه وينتيا(نيمه آګاه) دنده لري. دغه ټول سمبولونه د انسان په لرغوني(جمعي او قومي) روان کې ريښه لري، ته به وايي چې په دې ډول د هوسۍ(آزدۍ) مينه وال او د هغې له پا ره هڅې هم زموږ په لرغوني ژوند کې ژورې ريښې لري.

VI

په پايله کې ښايي و وايو دا انسان دی چې د آزادۍ په هکله فکر کوي او د هغې په باب پوښتنه طرح کوي. آزادي د انسان قلمرو دی، خو دا چې د دې يا هغې ځان ښوونې د ټاکنې(انتخاب) په پايله نه پوهيږي، د دې له پاره اړتيا ده چې د «ياسپرس» په قول له ځانه تير شو(دل به دريا بايد زد)، ځکه چې موږ د راتلونکې په هکله نه پوهيږو؛ له همدې امله ويره او اضطراب لرو. د «پوپر» په خبره د انسان راتلونکې نامعلومه ده او د پيشبيني(اټکل)وړ نه ده. دې ته ورته رواني ويره د راتلونکې په باب د «هوسۍ» په منظومه کې هم ځان تکراروي، وبه يې لولو:

کله چې لاس يو دبل غاړه کې سپيدو څخه پوښتنه کوو

سبا به څه کيږي

يو کال وروسته به څه پيښيږي؟!

د رېښتينې او انتزاعي آزادۍ په هکله ټاکنه(انتخاب) به د ليوال په راتلونکو ليکنو کې وګورو،ځکه د سارتر پر اند انسان آزاد دی، خو آزاد شوی نه دی. موږ به وګورو چې هوسۍ به د راتلونکي په لور د خوځښت وس ولري که نه؟

پوهندوی اسد آسمايي

کابل پوهنتون

۱۳۷۸/۱/۲۲

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولۍ